مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

*ولي الله ملکزی*

۲۰۱۹/۰۹/۰۱

# پاتې شه باران دی!

د جان کيری ماما دی ياد په خير وي، هر چيرې چې وي حتما به يی ډوډی ګرمه او اوبه به يې يخې وي. دا جناب نه يواځی دا چې د جوړې جاړې د هنر ښه لوبغاړی او شين ټاکو دی، بلکې د ډيرو په باور هغه د سياست په مذهب کې د مفتي او امامت مقام ته رسيدلی سړی دی. پنځه کاله وړاندی، يو د بصيرت ډاکټر او بل د ناکامو هيوادونو د مرمت طبيب يی د واک پداسی يو دسترخوان سره کښينول چې يويشتمه پيړی خو په ځای پريږده، د روميانو په تاخچو او د پيرنګيانو په ارشيفونو کی يی پارسنګی هم نه ليدل کيږي.

د هر رنځ څخه د وقايې او تقويې لپاره يی د بهترينو معجونو يوه نسخه وليکله او دغو ډاکټر صيبانو ته يی په لاس ورکړه. د بشر دوست صيب په خبره، د عين او غين د نيم په نيمه حکومت پنځه کلن ژوند له معجزې کم ندی. په هر امتياز او يکه دوکه نيکنامۍ کې سپيدار خپله ونډه پوره واخيسته، خو هره بلا مړې رسوايي او بی خوندي يواځی د ارګ په نصيب شوه.

چشم بد دور، د سترګو ډاکټر صيب چې يو شيک او با سليقه سياستوال دی، حتما د خپلو وطندارانو په خوښۍ خوښ او په درد يی دردمند دی. البته مخالفين يی ګمان کوي چې د اجرائيه رياست د دفتر رئيس او وياند، خپل هيواد په شعوري ډول د ايراني تمدن د حوزې يوه برخه ګڼي او د افغانستان نوم ورته جعلي او د پيرنګيانو نغوته ښکاري. له بلې خوا دوئ تور لګوي چې د هيواد سفارتونو خپلو اتباعو ته هله د افغان په ځای د افغانستاني ټاپه وهل پيل کړل ، .کله چې دی د بهرنيو چارو وزير وو

ولی د خپلو پلويانو په منځ کې ډاکټر صيب ته د جهاد او مقاومت د خندکونو د يو ګرد وهلي سمبول په سترګه کتل کيږي. کنه نو څرنګه کيدای شي چې د ثبات او همپالنې په ټيم کې دی د جنرال دوستم، استاذ خليلي، حاجي محقق او صلاح الدين رباني په ځای، د اجرائيه رياست څوکۍ د افغان ملت په خير د يو ملت پالي ګوند مشر ته ومنل شي؟ سياسي مجبوريتونه په خپل ځای صحيح، خو د برق د منفي او مثبتو دوو لوڅو سيمانو څنګ په څنګ غزول، د کاميابې مهندسۍ نښه ده.

کله چې په سروبي کې د ښاغلي زرداد فريادي بی تاجه پاچاهي او په پاټکونو کې يی داړه مار انسانان ساتلي وو، ښاغلي عبدالله د پوهاند سياف د ليدو لپاره جلال آباد ته راغی او پنځه ورځې د اروابښاد ساز نور استاذ په حويلۍ کی ايسار پاتې شو ترڅو الوتکه راشي. خدای شته، د ډاکټر صيب ډير قدر کيده او پدغو ورځو کې زه هم دلته ميلمه ووم، درې وخته چای چلم مو له ده سره ګډ او ښايسته خاطر مدار او ميلمه پالنه مو کيدله.

دويم ځل می يوه مياشت وروسته هغه مهال بيا وليد چې ما د شهيد احمد شاه مسعود سره د ډاکټر نجيب الله په پخواني هستوګنځي کې خبري مرکه درلوده او د کويټ د المجتمع مجلې د خبريال، عبدالله سره د مرکې عربي ژباړه زما تر غاړې وه. له هغې ورځې دا دی ۲۶ کاله تير شول، خو دريغه دريغه، بيا مو هيڅکله هم د سترګو کولکې سره مخ نه شوې.

زما د مرحومې ترور اروابښاد ليور به هميشه ويل، د چا په سر چې د عنقا افسانوي مرغۍ تيره شي نو ارو مرو به له باچا سره ګوري. خو دا به زما کم نصيبي وي چې لا تر اوسه زما په سر نده الوتې ترڅو د اوسني باچا سلامت (ولسمشر) سره د روغ بړ او د هغه په مبارک مخ د سترګو د ليدو قسمت می را ويښ شي.

د ښاغلي غني غليمان او غمازان هغه قارندوکی، احساساتي او متعصب مشر ګڼي او حتی يو تن خو د سټيج په سر ښه په بړ بړ سره وويل (روده های شان قاق است) دوئ استدلال کوي چې پردي خو په بلا پسی، خپل بوډا تره او کشر ورور يی ور سره ناغيره دی.

خو پلويان يی هغه يو مدبر، نوښتګر او مفکر ولسمشر ګڼي. د غني دولت جوړوونکي انتخاباتي شعار د ولس په رګونو کې نوې ساه واچوله. کومه چې د ايلبند په پيڅکو، د آمو په غاړه، د بکوا په دښته، د سپين غره په لمن، د سالنګ په زړه کې، د شمشاد په څوکه او د پامير په غاښي، يوه پاريدلی ولوله را پورته کړه ( که غني بيا راشي نو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**غنا به راشي، ښکلا به راشي، وطن به ژیړ شمشم او په سیالانو کې به سیال شي).**
**همدارنګه طرفداران یی غوري کوي چې ښاغلي غني له ځینو زور واکانو ښکې وویستې، د ځینو یی ښکرونه ور مات کړل، د اوبو هر ځاڅکې یی د پټرولو په بیه کړ او د ځمکې په ځای یی په هوا کې قیر سړکونه جوړ کړل.**
**د ملي یووالي حکومت؟ د خپلې لمړنۍ کاري ورځې په ګهیځ، ښاغلي حنیف اتمر ته آبي رنګې قلم په لاس ورکړ ترڅو له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي. د میز تر شا ولاړ د جهاد، ثبات او غنیمت ځیني مشران چې ګلالۍ پګړۍ یی تړلې وې، موسکي موسکي کیدل او د شونډو د پاسه یی سوکه سوکه د تکبیر نارې زمزمه کولې. ښاغلی اتمر یوه ځیرکه ځیره او په تیرو دریو لسیزو کې ښه غوړیدلی او ځلیدلی سیاستمدار دی. د دریو مختلفو نظامونو د ازمیښت له ټولو میچنو ښخخه تیریدل څه آسانه کار ندی، خو دی ورڅخه سرې سترګې را وتلی دی. پدی وروستیو څلورو کالو کې هرڅه سم دم وو، خو خدای خبر کومه آسماني ټکه را ولویده چې اتمر صیب خپله لاره جدا او د هغه چا د مشرۍ شمله یی ووهله چې دی یی په شل رقمه لقبونو او نومونو نازولو!!**
**د قابیل په لاس د هابیل د مرګ او تور کارغه له زمانې را نیولې تر ننه، دستور دا دی چې کله څوک جنازه په اوږو کیږدي او هدیرې ته ولاړ شي نو مړی ښخ او خپلوان دوستان بیرته کور ته راستانه شي. خو ښاغلي اتمر (د سولې او اعتدال ټیم) د انتخاباتو په هدیره کې د رقیب  په ځای، خپل سیاسي قد او قامت په قبر کې کیښود. یارانو یی له نورو سره تارونه وغزول، د سخي کوترې بیرته خپل زیارت ته ورستنې شوې او دی یی په تش ډاګ پریښود چې نه دلبر شو او نه یی دلبري وکړه.**
**اوس چې یوې خوا ته په دوحې کې د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې د تړون په پوله ولاړې دي او بل پلو ته ټولټاکنې د لاس لستوني په واټن دي، نو یقینا د ولس غوڅ اکثریت سوله غواړي، د جنګ د نوم په اوریدلو سره وچې باقۍ ورزي، مګر په انتخاباتو کې برخه اخیستل خپله ملي دنده بولي.**
**اوس درې اړخونه بلکل ګیچ ګول او په شش او پنج کې راګیر دي که چیرې بهرنیان ولاړ شي نو څه به کیږي؟ لمړنی اړخ زموږ ځیني ګاونډیان دي چې د خپلو لاسوهنو لپاره د غربي ځواکونو موجودیت د یوې حربې په توګه استعمالوي ترڅو له هغوئ څخه پریمانه امتیازات ترلاسه کړي. دوهم اړخ یی یو شمیر هغه وسله والې ډلې دي چې د خپلې جګړې د مشروعیت لپاره د بهرنیانو حضور ورته د سیرومو د خلطې حیثیت لري.**
**دریمه ډله یی همدغه سیاسي جریانونه او له دوئ سره تړلې پرکټیان دي چې په تیرو اتلسو کالو کې د میم زرما، ټوله زما په تبه اخته او د انحصار په نري رنځ ککړ دي. همدارنګه هغه سیند راوړي شهزادګان چې د ویښتانو د جوړولو لپاره دوبۍ ته ځي، پلو خوري ګیچه یی توکوي او د لنډکروزر تیل یی د همدغو بهرنیو د مهربانۍ له برکته دي. دوئ د قبر د چینجو په څیر دي، چې له رڼا سره نا آشنا او د فساد او چور په تړړمیو کې ستر شوي او پړسیدلي دي. دوئ به خود اندیښمند، فکرمند او لالهنده وي که بهرنیان لاړ شي، نو دوئ به د تورې بلا ښکار شي!**
**فکر کوم چې د لاندینیو ښېتونو شاعر لا له پخوا څخه پیش بینه او د دنګو غرونو د پاسه د توپانونو، بارانونو او بیلتانه په راتګ خبر وو ترڅو د خپلو وارخطا هیوادوالو سره د زړه خواله وکړي او دغه شعر ورته ډالۍ کړي، ځکه داسی ښکاري چې جانان په مزه مزه، تیله دارې پڼې پښو ته اچوي او د تګ تکل لري.**

**په لویو غرو باندی را تاوو شول توپانونه -**
**مه ځه دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی**
**د ماښام لړې دي خوریږي، د بیلتانه سیلۍ لګیږي -**
**ماشوم زړګی راته ژړیږي، چې جانان ځي نه پاتې کیږي**
**په ما تیاره ده که تیاره ټوله جهان دی -**
**مه ځه دلته شپه وکه، پاتې شه باران دی**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ